ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19
OPEN ACCESS
CC BY NC

**فرزانہ رسول**
پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔
**ڈاکٹر بدرالحکیم**
لیکچرر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔

# د مردان جدیده شاعری کښې پښتون تهذیب مطالعه

**Farzana Rasool ***
PhD (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda
**Dr Badrul Hakim**
Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.
***Corresponding Author:** alamdawar022@gmail.com

## Pashtun Civilization in Modern Pashto Poetry

Civilization is the name of progress in society and life style of a nation. Civilization contains Social and moral behaviours of society. Brotherhood, justice, equality, love, thoughts, peace, knowledge, music, literature, economy and all cod of life are basic elements of civilization. Pashtun civilization is the complete cod of life of Pashtun nation or society .the Jirga, maraca, hospitality , love ,justice ,freedom ,kindness, help of helpless people, good behaviour's peace and freedom are main points which called pashtunwaly. District Mardan has historical background in relation to Pashtun civilisation.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

ماخذ تحقیقی مجلہ

Many renowned poets were the gems of this soil. Several poets from Mardan has penned about rural lifestyle and Pashtun civilisation in their Pashto poetry.

**Key Words:** *Civilization, Pashtun civilization, civilization in mardan modern poetry.*

تهذيب په ټولنه او د انسان په ژوند کښې د ښۀ والي،پرمختګ ، سمون او ترقۍ نوم دے ۔ د معاشرې د سکون ارام، امن ،ترون او خپلو کښې د مرستې او مدد او تعاون لاره ده ۔ د انسانانو تر مېنځه د ادب او احترام د ژوند تېرولو لاره ده ۔ د يو بل د پکار راتلو ، د خېر ښېګړې او ضرورتونو په مينه محبت د پوره کولو او يو ځاے په ښه طريقه د وخت تېرولو د شريک ژوند عملي طريقه کار د ښۀ تهذيب نخښه ده ۔ د ښۀ نه د ښۀ ژوند ، د اسانتيا او بهترين اړخ ته نزديکت د انساني تهذيب وده او ارتقا ده ۔ د تهذيب پرمختګ سره د انسان په زندګۍ کښې هم پرمختګ پېدا کيږي ۔ د ښۀ تهذيب اثرات هم خواږۀ او د خوند رنګ وي ۔ په ټولنه کښې ورسره شعور وده مومي او دغه شعور او پوهه د انسانيت د بقا او ښکلا سبب جوړيږي ۔

د تهذيبي ترقۍ او شعور سره په ژوند کښې ډېره اسانتيا پېدا شي ۔ اخلاقي معيارونه ښۀ شي ، د يو بل د احترام او برابرۍ اګاهي پېدا شي ۔ د ټول انسانيت د امن ،خوشحالۍ احساس اوزيږي ۔ د اتفاق او انساني رشتې رښتونے قدر پېدا شي ۔ د يو بل د ضرورياتو د خيال ساتلو او تعاون جذبې برڅېره شي او ټولنه د مثالي ژوند آئينه او غوره نمونه شي ۔

کۀ د لغوي معنو په تناظر کښې وګورو نو تهذيب د ښو اخلاقو،شائستګۍ،مادي ترقۍ او د ټولنې د اقدارو مطابق وخت تېرولو ته وئېلے شي ۔١

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلّہ

هم دغسې نزدې معنا ئې پښتو اکېډمي ډکشنري هم کوي او د سړيتوب ،انسانيت،د ښو اخلاقو،د رسم او رواج د پالنې او قابليت معنا ورکوي ـ۲
د تهذيب وده او پرمختګ ځان سره د مرستې ، ملګرتيا ، امن ،ازادئ ،اقتصادي ترقۍ،تعليم، انتظام او د صحت په اړه د بنيادي ضرورتونو لارې ګودرې سموي ـ په پښتو ادب کښې عام طور تهذيب او ثقافت يو معنا کښې استعماليږي خو په تهذيب او ثقافت کښې ډېر بنيادي فرق موجود دے ـ تهذيب ډېر وسعت لرې ، د دې په نسبت ثقافت محدود وي او په يو تهذيب کڼ ثقافتونه هم ځائېدلے شي خو دلته اکثر دواړه په يو شان معنوکښې اخستلے شي ـ ۳
په يوه ټولنه کښې د مقصدي څېړنو او ټولنيزو اقدارو نظام ته تهذيب وئيلے شي ـ تهذيب د يوې ټولنې د ژوند د تېرولو ، د فکر او احساس آئينه وي ـ ژبه ،الات، اوزار،پېداواري طورطريقې،معاشرتي رشتې،داوسېدلوطرز،فنون لطيفه،علم،ادب،حکمت،عقيدې،اخلاق،عادتونه،رسمونه ،رواجونه،روايات، د مينې محبت انداز،خانداني تعلقات وغېره د تهذيب مختلف اظهارونه دي ـ۴
بنيادي طور تهذيب د انسان د ژوند د ترقۍ او سوکالۍ ذريعه ده او دسکون نوم دے ـ په ازادئ او خوشۍ سره د وخت تېرولو لاره چاره ده ـ د خپلواکۍ نامه ده ـ تهذيب يواځې معاشي ترقۍ ته نۀ وائي ـ اختيار او عهده هم د تهذيب بنياد نۀ دے ـ ډېر مالدار او د اختيار خاوندان د تهذيب نه خالي دي ـ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19



مولانا عبدالقادرتهذيب ته د ازادۍ په نظر ګوري او ليکي :

"د يو مهذب انسان د ژوند د پاره بنيادي ثيز ازادي ده ـ سري په ذات کښې د خودۍ جوهر لري او د دغې جوهر حاصلول د دۀ د ژوند مقصد دے ـ سړے دې جوهر ګڼلے شي نه د هغې د حاصلولو آله ـ دۀ ته دې حق حاصل وي چې د حکومت دستورالعمل په خپله جوړ کړي او بې د هغه جرمونو چې قانوني سزا ئې مقرر ده بل په هيڅ صورت دې قيدولے يا لړزولے نۀ شي ـ د تهذيب ژوند هم هله ممکن وي چې کوم ځاے داسې حالات موجود وي ـ البته سړے نۀ شي وئيلے چې کوم ثيز امکان لرلے شي هغه دې حاصل هم شي ـ ممکن ده چې ځنې خلق ازاد وي خو مهذب نۀ وي ـ "۵

ازادي او خپلواکي د تهذيب د ودې او پېژندنې د پاره ضروري او بنيادي ثيز دے او چې انسان ته ازادي حاصله نۀ وي نو د تهذيب ترقي ممکن نۀ ده ـ ځکه چې دا د انسان بنيادي حق دے او کله چې سړے د بنيادي او اساسي حق نه محروم وينو هغلته وحشي توب وي انسانيت نۀ وي ـ داسې هم کېدے شي چې د يو ټولنې ،علاقې يا وطن خلق ازاد وي خو د بلې ټولنې يا قام سره د ظلم او ناروا رويه کوي او د خپلې ګټې او فائدې د پاره د بل نقصان کوي ،حقونه ئې لوټي نو بيا دغه ازاد خلق هم مهذب او تهذيب لرونکي نۀ وي ـ د تهذيب د پاره انساني برابري ، انصاف او احترام دے په ښو اخلاقو پېش کېدل دي ـ ښې رويې اختيارول دي ـ د کومو په وسيله چې ژوند ښکلا مومي، ښۀ چاپېرچل وي ـ د ښو او نېکو اخلاقو مظاهره وي ـ د انساني همدردۍ تصوير او

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلہ

تصور وي ــ د خيال او فکر ازادي او د رائې احترام وي ــ

تهذيب داسي معاشرتي انتظام وي چې د کلتوريا ثقافت تخليق له وده ورکوي ــ دا څلور اساسي ستني لري يا بنيادونه لري ــ يو دا چې معاشي تعاون يا لارې پېدا کول ،بل سياسي انتظام ورکول،د اقدارو او رواياتو پالنه ، بل د علومو او فنونوخورول او تحفظ کول بنيادي اهميت لري ــ۶

تهذيب ذاتي څيز نۀ دے اجتماعي حېثيت لري او د ټولني سره ئې تعلق وي ــ يو قام چې څومره شعور ، پوهه اواخلاقي معيار اولري هومره به مهذب وي ــ او دومره به ئې معاشره د امن او مينې سرچشمه وي ، او ترقي يافته به وي ــ د خوشحالی سوکالی هنداره به وي ــ

امن بنيادي څيز دے او د داسي ټولنيز حالت ته وئېلے شي چرته چې ټولنه کښې ارام وي سوکالي وي سکون او اطمينان وي ــ مطلب په اجتماعي او انفرادي توګه انسان تکليف او پرېشانی سره مخ نۀ وي ــ امن سره ژوند د انساني فطرت خاصه ده بنيادي حق هم دے او اساسي ضرورت هم دے ــ ۷

" په يوه ټولنه کښې مينه ، محبت ، وروروليي ، مساوات ، اخوت ، انصاف، د مظلوم مرسته ، له ظالمه نفرت ، د ژوند ښادي عنصر وي ــ هر څوک چې په دي عمل کوي ــ هغه د انسانانو په صف کښې دريږي چې د ټولني خواخوږي ګڼل کېږي"۸

د معاشرې دغه خواخوږي انصاف ، برابري،مرسته او د ژوند د ترقی سامان او وده د مهذب ژوند علامات دي ــ د ژوند د ارتقا نخښي دي او د پرمختګ د پاره د شعور محرک دے ــ د يو قام د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

ذهني ودي اولوړتياعکاسي ده ــ د ټولي دنيا د پاره د خېرخواهی ذريعه ده ــ
تهذيب د يو قام د ژوند ژواک د تېرولو طور طريقي دي د رواياتو ،اقدارو ، دود دستور پالنه او اخلاقي روزنه ده ــ د ژوند د هرې شعبې سره تړلي همه عادتونه،او کارونه دي چې انسان ورسره په ټولنيز ژوند مخ وي ــ دا طريقي او ذريعي د يو نسل نه بل ته په عقيدت او احترام منتقل کيږي او دغسي دغه روايات د وخت د ضرورت سره سم څۀ نا څۀ مثبت بدلون سره سره د يوې ټولني او قام شريک ميراث وي او په دې عمل د فخر باعث وي ــ

## پښتون تهذيب :

څنګه چې د دنيا نور قامونه خپل خپل تهذيبونه لري ، د ژوند د تېرولو خپل ځانګړي انداز ،اسباب ،اقدار او روايات لري ، پښتون قام هم د صديو نه خپل تهذيب او د ژوند تېرولو ټاکلي او غوښتلي اصول ، قاعدې،اقدار او تاريخ لري ــ دغه د ژوند تېرولو ټګ لاري ته پښتونولي وئېلے شي او پښتانۀ په پښتونولی فخر او وياړ کوي،او دومره پرې کاربند دي چې څوک د دې اصولو نه بهر شي هغه بيا پښتون نۀ شي ګڼلے ــ دا روايات د دوي د ژوند آئين او دستور دے او د يو آئيني قانون حصه ګڼلے شي ــ پښتونولي د امن ، مرستې،خدمت،قربانی ،وفاداری ، احسان ،مدد،وروروليی،مينې،قدردانی،ميلمه دوستی اود شېګړې نوم دے ــ د پښتون قام په دغه دستور او رواياتو کښې د ټولني امن او امان ډېر اهميت لري ــ د دوي کلتور د امن او صلحې بنيادي اساس دے ــ بل ته پناه ورکول،مدد کول ، د شر

ماخذ تحقیقی مجلّہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

مخه نیول، د جرګې په لاره د بدامنۍ او فساد ختمول د دوي مرام او اجتماعي فکر دے ــ روغه ،جوړه ، جرګه، مرکه د ښځو عزت ، د کمزوري ملګرتیا او د حق طرفدارې د دوي د دغه روایاتو حصه ده ــ ۹

د پښتنو دغه ځانګړ خویونه، خویونه ، خصلتونه د ښېګړې، مدد، حق پرستۍ، ننګ ، غېرت ،مړانې سخاوت ، اشر ، غوبل ،. صلاح مشورې، روغې جوړې ، ننواتې او ملاتړ روایات د امن او امان د صحت مندې تولنې اقدار د ژووند خوارۀ او رانۀ اصول دي ــ دچا د خفګان په صورت کښې پښتنو کښې د کلي محلې مشران ، سپین روبې جرګه کیږي او د نقصان نه وړاندې دغه مسئلې ختموي ــ روغه جوړه کوي ــ دغسې امن راشي او د شر او فساد مخه نیولے شي ــ د پښتنو دغه روایتونه د صدیو صدیو د تاریخ تهذیبې امانت دے او ددوي د ژوند پوره احاطه کوي، د تقدس او احترام درجه ورته حاصله ده ــ پښتونولي یوه پاکه او سپېڅلې جذبه ده او د عوامي قبولیت معیار لري ــ ځکه چې په دې کښې د پښتنو د ژوند د ټولو ضرورتونو د حل لارې چارې موجود دي ــ د هرې مسئلې ، غم ښادۍ او روغ رنځورطور طریقې لري او د انفرادي او اجتماعي پېښو حل او سمون لري ــ ۱۰

پښتونولي د مشر کشر ،دوست،دشمن،مېلمه، کوربه، خپل،پردي،حجرېاو جمات خپل روایات لري ــ د هر چا خپل احترام او مقام په ګوته کوي، د حق او ناحق تر مېنځه توپیر هم څرګندوي او د حق او رښتیاد ملګرتیاکلک پېغام هم لري ــ

د پښتون قام هر فرد او په اجتماعي شکل کښې د هرې پښتنې سیمې دغه پښتونولي نزدې نزدې یو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19


شان رنګونه لري ـ کۀ چرته لږ ډېر بېلتون وي نو هغه به هم ډېر نۀ وي ـ د هرې علاقې او قبېلې رسم ،رواج،عادات او قدرونه تر ډېره حده مشترک دي او د جدید دور جدیدو جقاضو پرې ډېر کم اثر غورځولے دے ـ مردان ښاري علاقه ده او په ښاري ژوند د کليوال او غرئيز ژوند نه زيات عالمي اثرات اثر کوي او د ښار کلتور څۀ نا څۀ نوښت ضرور لري ـ بيا هم د وخت سره پښتونولی کښې ډېر نوښت ځکه نۀ دے شوے چې دا په عموي توګه مثبت قدرونه ، د امن ،مينې او انسان دوستی عناصر لري ـ

پښتواو پښتنولي د پښتنو سره لازم او ملزوم دي ـ د پښتونولی اثرات د دوي د وينې او مينې حصه ده او د مور په پيو کښې په وراثت کښې پښتنو ته رسېدلې ده ـ ددوي په ماحول،حجره او جماعت کښې شامله ده ـ په لارو کوڅو،خاورو کانړو او بوټو کښې ځليږي او په هر قدم ځان ښکاره کوي ـ ١١

ادب د ټولنې د کردار، فکر او نظر تر جماني کوي او هم د ټولنې دهر عمل او رد وعمل ښکارندويه وي ځکه چې شاعر او اديب هم د دغه معاشرې پېداوار او ترجمان وي ـ څۀ چې ټولنه لري هم هغه به څرګندوي نو پښتونولي د پښتنود عام ژوند بنيادي او اساسي عنصر دے نو ارو مرو به د دوي ادب اهمه برخه وي ـ ټولنه ،ادب او ژبه يوبل سره تړلي وي ـ ژبه د ادب د اظهار ذريعه ده او او ادب د ټولنې عکاسي کوي ـ پښتون تهذيب هم د وخت د ارتقا او پرمختګ سره د ژبې په ذريعه د ادب حصه شوے دے اوتر دې وخته رارسېدلے دے ١٢ـ

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

مطلب دا چې پښتون تهذيب د ادب په هر اړخ کښې ښکاره دے ځکه چې دا ډېر بنيادي توکے دے ـ بل د ټولنې د هر اړخ نخښې نخښانې لري نو ارومرو به د ادب او ژبې حصه وي او د هر شاعر کلام کښې به په څۀ نه څۀ شکل موجود وي ـ بيا د مردان خاوره په تاريخي حواله ډېر اهميت لري ـ د مردان شعري ادب په پښتو ادب کښې لوړ مقام لري او ډېر د نامې جامې شاعران اديبان ئې په جديد ادب کښ پښتو ژبې ته ورکړي دي ـ دا سېادبي انفراديت هم لري چې د فخر مقام ورته حاصل دے ـ په دغو شاعرانو کښې قمر راهي، انديش شمس القمر، مشتاق الرحمان شفق، ډاکټر اسرار، محمدؐ اقبال اقبال، اسرار د طورو، نورر البشر نويد، همايون هما، ډاکټر محمدؐ زبېر حسرت ،فېض الوهاب فېض او نور ګڼ شاعران شامل دي ـ زنانه شاعرانې هم لري چې په هغو کښې سيده حسينه ګل چې بنيادي تعلق پې نوښار کاکا صېب سره دے خو مردان کښې وادۀ ده او هلته مېشته هم ده ـ د دې نه علاوه ساجده مقبول، کلثوم افضل، نرګس ادا، ناز پرور، نګهت ناياب او فرزانه رسول صنم او نورې شاملې دي چې د دوي کلامونه د پښتنې تهذيب عناصر لري ـ

قمر راهي:

قمر راهي صرف د مردان د سيمې نمائنده شاعر نۀ دے د پښتو ادب بل مثال دے ـ ددۀ په شاعرئ د پښتو او پښتونولی همه رنګونه په نظر راځي ـ غزل او نظم دواړه ليکي خو د نظم تله ئې درنه ده ـ د پښتو ادب تاريخ کښې لوړ مقام لري او د دوي د ذکر نه بغېر به د ادب تاريخ نيمګړے وي ـ د خپل وخت د درديدلي حالاتوشعور او احساس

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

داسي منظرنامه لري چې بېخي د نظر انداز کېدلو نۀ دے ـ۱۳

پښتنه معاشره د رشتو ډېر اهميت او د دې پالل د پښتني تهذيب بنيادي عنصر دے بيا د مور پلار سره د رشتې مقام خو بې انتها اوچت دے ـ ۀوک چې د رشتو تقدس نۀ پېژني او احترام ئې نۀ کوي هغه هډو پښتني تهذيب او کلتور کښې د پښتون د نوم مستحق نۀ دے ـ

تۀ د رشتو په تقدس نۀ رسې
تۀ کۀ څۀ پېژنې بس دا پېژنې
يوه رشته چې حواله ئې جنس ده
يوه رشته چې څو پېسې ئې تړون
تاته رشته د مور او پلار څۀ حادثه ښکاري
تاته بې لوڅه پاکه مينه څۀ قصه ښکاري
تاته څۀ ياد دي په لونده غاړه به څوک پراتۀ وو
د تودې غېږې وچې غاړې مزې چا اخستې
پښتنې ميانديز پښتنې وې فېشن داري نۀ وې
نيمې بربنډې بې حيا داسې واوداري نۀ وې ـ ۱۴
ـ

حجره د پښتني تهذيب بنيادي مرکز دے ـ په حجره کشران ،مشران ،زلمي ، د هرې طبقې او عمر خلق بغېر د څۀ امتياز نه شرکت کوي ـ حجره باقاعده د يو سکول حېثيت لري او د تهذيبي تربيت اداره ده ـ په حجره کښې هر قسمه د ژوند سره تړلي کارونه تر سره کيږي ـ مړے ژوندے، غم ښادي،ټوقې ټقالې،جرګې مرکې اونورې ټولنيزې چارې تر سره کيږي ـ ۱۵

په دې وجه دا پښتنو د ناستې پاستې او اتفاق و اتحاد مرکزي اداره او د اهميت جوګه عنصر دے ځکه چې د پښتنو زيات وخت د حجرې سره د تعلق

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

وي ـ دغه اهميت ته قمر راهي داسي اشاره کوي
ـ

چې په رشته کښې مې ماما وو د کمال سړے وو
چې د حجرې نه ئې د فن انګازې اوس هم راځي
دغې حجرې سره زما د کور دېوال شريک وۀ
هر ماسخوتن دغه حجره کښې به مېله لګېده ١٦

حجره او جماعت د پښتون تهذيب بنيادي ستنې دي او په دې کښې د جرګو مرکو اهتمام په ټولنه کښې د صلحې، امن، ورورولئ، يووالي اود شريک ژوند علامتونه دي او لوي تهذيبي اهميت لري ـ عبدالروف عارف د دې قدرونو ذکر داسې کوي:

جمات که ترينه لرې شي حجرې که ترينه لرې شي
پښتو
کښې به څۀ پاتې شي جرګې که ترينه ورکې شي ١٧

د حجرې ناسته ورورولئ
او مينه
خلقو قدرونه پخواني
پرېښودل ١٨

د دې نه علاوه د شمس القمر انديش په شاعرئ کښې د پښتون تهذيب عناصر په کثرت سره مخې ته راځي ـ د پښتنوچې څوک قدر کوي نوپښتانۀ د هغوي قدر او عزت په خان فرض ګڼي او څوک چې ئې قدر او نۀ کړي نو د باچا هم پرواه نۀ کوي ـ د شملې او پټکي احترام هم ډېر کوي ـ چې په دې شعر کښې ورته واضحه اشاره شوې ده ـ

تۀ که د خپلې
شملې قدر اوکړې
ستا د پېزار
به احترام کېږي ١٩

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19

اے د تهذیب
معیاره دومره خو مې شکته پرېږده
چې ازمري خو د
ځنګل په ژبه اوستائمه ۲۰
په دې شعر کښې د انسان په جدت معني خېز طنز دے چې له خپل معیاره د پورته تګ ذکر لري ـ دغسې کۀ مونږ وګورو نو د پښتون تهذیب اهم رکن عزت او ناموس دے ـ کۀ لاړ شي ځي دې خو عزت دې نۀ ځي ـ پښتانۀ تیټ سر شرم ګڼي ـ په هسکه غړی ویاړي ـ ډاکټر اسرار دغې حقیقت ته اشاره کوي ـ
دا چې هر
چاته اوس په پښو کښې رغړي
د پښتنو
سرونه داسې نۀ وو ۲۱
په مردان کښې نور هم ډېر ښۀ ښۀ شاعران دي او د هنر او شعري عظمت په وجه ډېر درانۀ نومونه دي خو د نموني د پاره مې په دې څو شاعرانو اکتفا اوکړه ـ په مردان کښې زنانه شاعراني هم ډېري دي چې د پښتني تهذیب د وړاندې کولو او په ښۀ انداز د پېش کولو اهلیت لري ـ د یو څو زنانه لیکوالو د کلام نموني د نمائندګی د پاره پېش کوم ـ
په پښتني تهذیب کښې د حیاساتني، مېلمه پالني، صداقت او د رشتو د قدرداني ډېر اهمیت چې موجوده د سرمائې دور کښې دغه قدرونه کم شوي دي ـ ساجده مقبول تنهایي ذکر داسې کوي :
صداقت محبت نشته
بس یو خوشي غوندې
کار شو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلہ

چې کوربه مېلمه ته
ګوري
په تندي کاڼي ماتيږي
دا لا ځنګه زمانه شوه
ورونه خوېندو نه پټيږي
۲۲
د پټکي عزت او د لوپټې ناموس پښتون تهذيب کښې لوی مقام لري ـ هم دغسې د حيا او ننګ خيال ساتل هم ډېر زيات اهم قدر او روايت دے او د دې پالنه ډېره ضروري ده، سيده حسينه ګل ئې داسې بيانوي ـ

د ورور غرور د پلار پټکې د مور
ټيکري ته ګوره
مينه په خپل ځاے خو کچه کار
پښتنه نۀ کوي ۲۳
بل ځاے د شپېلی،رباب،ستار،سندرې،
اتڼ،منګي،دستار،مېلې او ګودر ذکر کوي چې دا ټول زمونږ د تهذيب حصه ده ـ
زۀ چې شپېلی زۀ چې رباب زۀ چې ستار پېژنم
زۀ چې سندره زۀ اتڼ زۀ چې خمار پېژنم
زۀ چې منګے زۀ لوپټه زۀ چې دستار پېژنم
زۀ چې مېلې زۀ چې ګودر زۀ چې چينار پېژنم ۲۴
د مردان په زنانه شاعرانو کښې رحاب ملک،سيده شبنم،کلثوم افضل ، فرزانه رسول صنم او نورې اهمې او ښې شاعرانې هم شته چې د پښتنې تهذيب په اړه ډېر څۀ هم لري خوماترې د نمونې په توګه ذکر شوو مثالونو اکتفا اوکړه ،مطلب او عرض مې دا وو چې په مردان کښې د نارينه او زنانه شاعرانو د پښتنې تهذيب په اړه څرګندونه هم اوشي او نمائندګي هم اوشي ـ د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19



مردان په جدید پښتو ادب کښي تهذيبي عناصت پربمانه دي او ډېر په غوره ، علمي،ادبي او هنري انداز بيان شوي هم دي ـ

حوالي

۱: درياب،قلندر مومند او فريد صحرائي،پېښور،ټکسټ بک بورډ،۱۹۹۴

۲: پښتو اکېډمي لغت،پېښور،پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي،۲۰۱۹ ـ

۳: مبارک علي، ډاکټر ،تاريخ اور تهذيب کا ارتقا،لاهور، تاريخ پبليکيشنز،۲۰۲۲،مخ،۱۶ ـ

۴: سبط حسن، پاکستان میں تہذیب کا ارتقاء، مکتبہ دانیال، تیراہواں ایڈیشن، ۲۰۰۹ء، ص،۱۷

۵: مولانا عبدالقادر،د فکر يون،مولف ،عبدالرحمان شباب،پېښور،يونيورسټي بک اېجنسي،۱۹۹۸،مخ،۱۲۲ ـ

۶: Durant will,The story of civilization,new york,1942,p,1

۷: دوست محمدؐ بحر ، ۹/۱۱ نه پس د خيبر پښتونخوا پښتو غزل کښي د امن خواهش ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچا خان پوهنتون چارسده ، ۱۷ـــــــ ۲۰۱٦ ، مخ،۱۱ ـ

۸: ډاکټر لياقت تابان ، د شېدا او حنان پرتليز جاج ، کوټه ، ملګري ليکوال ، ۲۰۰۷ء ، مخ ، ۲۵۵

۹: دنورالامين يوسفزے ، پښتون دانش ، هېواد ، پښتو ادبي او ثقافتي تړون صوابی ، ۲۰۲۲ء، مخ ۳۱

۱۰: حضرت زبيرزبير،اولسی رنګزار،اولسی ادبی ټولنه،مخ، ۱۱۱ـ

۱۱: پروفيسرپريشان خټک،پښتون کون،پشتواکېډيمي، پشاوريونيورسټي، ۲۰۰۵، مخ ۱۳۷

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-19



۱۲: راج ولي شاه خټک، ډاکټر،پښتو ادبي تحريکونه ،پېښور ،پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۲۲،مخ، ۱۹ ـ
۱۳: هما، محمد همايون،سريزه،مشموله خيره، د قمر راهي،
۱۴: قمر راهي، خيره ،مخ، ۲۱۹
۱۵: سعدالله جان برق،پښتو مزاحيه شاعري،مشموله ،جرس نظم نمبر،کراچی،مسلسل گڼه نمبر، ۲۰۱۸، ۴۰، ۳۹، ۳۸، ۳۷،مخ، ۲۴۰ ـ
۱۶: قمر راهي،مشال ،پېښور ،يونيورسټي پبلشرز، ۲۰۱۳،مخ، ۵۲ ـ
۱۷: زاهد،عبد الروف، زېرے،مردان، د ائمنډ پريس، ۲۰۱۵،مخ، ۱۱۸ ـ
۱۸: زاهد،عبد الروف، زېرے،مردان، د ائمنډ پريس، ۲۰۱۵،مخ، ۱۳۲ ـ
۱۹ : انديش،شمس القمر،پېمانه دغزل،دوبی، د اماراتو پښتو ادبي ټولنه، ۲۰۱۵،مخ، ۸۴ ـ
۲۰: هم دغه ،مخ، ۳۵۴ ـ
۲۱: ډاکټر اسرار، د ژوند نغمه،پېښور،دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۹،مخ، ۱۴۲ ـ
۲۲: تنها، ساجده مقبول،ښکالو، مردان، ۲۰۱۶،مخ، ۱۳۸ ـ
۲۳: حسينه گل،لاس کښې مې ستا لاس وي،پېښور،دانش کده، ۲۰۲۱،مخ، ۹۶ ـ
۲۴: حسينه گل ، سيده،ژوند پرسته،پېښور، دانش کده، ۲۰۲۱،مخ، ۷۹ ـ